ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست
ګڼه ۲۵
نیټه: شنبه، د ربیع الثاني ۲۷مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال




له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان اقتصادي او سوداګریزې اړیکې هم د افغانستان او هم د ګاونډیو هېوادونو له پاره خورا مهمې دي. دا چې افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی، نه یوازې دا چې تر ټولو ډېر تجارت یې له ګاونډیو هېوادونو سره دی، بلکې له نړۍ سره د سوداګرۍ لپاره هم تل پر خپلو ګاونډیو هېوادونو متکي دی. په ورته وخت کې افغانستان بیا د ګاونډیو هېوادونو له هغې جملې ایران لپاره یو مهم بازار دی. دغه راز افغانستان هم په سیمه کې د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت له کبله د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې زیات اقتصادي فرصتونه لرلی شي؛ خو په هېواد کې دوامداره بې ثباتي د دې لامل شوې چې له ګاونډیو هېوادونو سره په اقتصاد، سوداګریزو او ترانزیټ برخو کې اړیکې نه دي ټینګې شوې. اوسمهال چې افغانستان تازه امن شوی، خو له دې سره یې اقتصاد هغه کچې ته نه دی رسېدلی، چې کوم ته اړتیا ده، له ګاونډیو هېوادونو سره اقتصادي او سوداګریزې اړیکې د اقتصادي پیاوړتیا او د ناخوالو په کنټرول کې مهم رول لري او اړتیا ده چې بحث پرې وشي.

د همدې اړتیا پر بنسټ د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړ پوړي امارتي پلاوي د روان کال د لړم میاشتې په ۱۳ مه د ایران په رسمي بلنه دې هېواد ته سفر وکړ. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ایران ته د خپل شپږ ورځني سفر پرمهال د یاد هېواد د ولسمشر د مرستیال او بهرنیو چارو وزیر په ګډون له ګڼو لوړ پوړو چارواکو او په دې هېواد کې مېشت افغان پانګوالو سره وکتل. په دې لیدنو کتنو کې د سوداګرۍ، صنعت، کانونو، تیلو، ټرانزیټ، پانګونې، کرنې، سرحدي مسایلو، روغتیا، لارو او ښار جوړونې، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او دغه راز په ایران کې مېشت افغان کډوالو د ستونزو په اړه خبرې وشوې. د دې ترڅنګ حاجي ملا صاحب او مل پلاوي یې له چابهار بندر او یوشمېر صنعتي او تولیدي فابریکو هم لیدنه وکړه. د سفر پرمهال په بېلا بېلو برخو کې یو شمېر هوکړه لیکونه هم لاسلیک شول.

موږ پوهېږو چې د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکې اوږده سابقه لري. ددې ترڅنګ پر دې هم پوه یوو چې ایران پر افغانستان د پخواني شوروي او بیا د امریکا د اشغال پرمهال د افغانانو لاسنیوی کړی او په خپله خاوره کې یې میلیونونو افغان کډوالو ته ځای ورکړی او ددې کډوالو کوربه پاتې شوی دی. دا مهال چې په افغانستان کې یو اسلامي او مرکزي نظام رامنځته شوی ایران هڅه کړې چې خپل اړیکې لا پراخې او غښتلې کړي. وخت پر وخت یې مسوولینو افغانستان ته سفرونه کړي دي او د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې یې هم ګامونه پورته کړي دي. د دې پانګونې یوه ښه بېلګه د هرات د غوریانو د اوسپنې په کان کې د ایراني شرکتونو پانګونه ده.

ایران ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او ملي پلاوي سفر موخه دا وه چې له دې هېواد سره خپلې اړیکې پراخې کړي. بهرنیو هېوادونو ته د افغاني توکو د رسولو اسانه او ارزانه لار پیدا کړي چې هغه د ایران چابهار بندر دی؛ نو له دې سره به له یوه لوري افغانستان له اوبو سره وښلول شي، له بل لوري به د خپلې سوداګرۍ له پاره بدیلې لارې پیدا کړي او پر یوه یا دوو هېوادونو له متکي کېدو څخه به ځان وباسي. همدا چې موږ خپله سوداګري نړۍ ته وغځوو، سوداګریز توکي مو تر نړیوالو مارکیټونو ورسېدل، نو بیا په دې کې هېڅ شک نه پاتې کېږي چې افغانستان دې له اقتصادي پلوه یو پیاوړی هېواد ونه اوسي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړ رتبه امارتي پلاوي سفر وکړ

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایران د ولسمشر له لومړي مرستیال محمد مخبر سره وکتل



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته له رسېدو سره سم د ایران د ولسمشر له مرستیال ښاغلي محمد مخبر سره وکتل. په دې کتنه کې دواړو لوریو د افغانستان او ایران ترمنځ د سیاسي- اقتصادي تعامل پر پیاوړتیا، د سیمې او نړۍ پر سیاسي وضعیت او همدارنګه په فلسطین کې د

اسرائیلو د ظالم رژیم له لوري د ترسره شوو جنایتونو په اړه بحث او خبرې وکړې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال وويل، د شل کلن امريکايي اشغال له پای ته رسېدو وروسته افغانستان په خپلو ټولو چارو کې خپلواک دی او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره له ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره تعامل ته را ورانديې شوی دی. د ایران د ولسمشر مرستیال بناغلي محمد مخبر خپلو خبرو پر مهال وویل، ایران له افغانستان سره د خپلو اړیکو پراخولو ته لېواله دی او غواړي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیتي اړیکو د پراخولو او د دواړو هېوادونو د ملتونو د هوساینې لپاره په مشترکه کار وکړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ايران د بهرنيو چارو له وزير حسين امير عبداللهيان سره وکتل

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سفر په ترځ کې د ایران د بهرنیو چارو له وزیر حسین امیر عبداللهیان سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د دوه اړخیزو مناسباتو، سیمه‌ییز اتصال او دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه بحث او خبرې وکړې.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ايران د ملي امنيت شورا له رئيس علي اکبر احمديان سره وکتل

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سفر پر مهال د دغه هېواد د ملي امنیت شورا له رییس علي اکبر احمدیان سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو پر سیاسي او اقتصادي اړیکو سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې پر ښې همغږۍ، د اوبو مدیریت، ترانزیټ او د ایران له لارې د افغانستان د صادراتو او وارداتو د زیاتوالي په اړه بحث او خبرې وکړې.



د محترم ملا صاحب په خبره، افغانستان او ایران خپل ستراتیژیک موقعیت ته کتو سره دوه ښه اقتصادي شریکان جوړېدای شي او اړتیا ده چې د دغه موخې ترلاسه کولو لپاره دوه اړخیزې همکارۍ لا زیاتې او تخنیکي ټیمونه په ګډه سره کار وکړي. د ایران د ملي امنیت عالي شورا رئیس بناغلي احمدیان د خپلو خبرو پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د ګډو همکاریو پر زیاتوالي ټینګار وکړ.

# محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د ايران د انرژۍ له وزير علي اکبر محرابيان سره وکتل



محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند ايران ته د خپل سفر په ترڅ کې د دې هېواد د انرژۍ له وزير ښاغلي علي اکبر محرابيان سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال دواړو لـــورو د اوبو مديريـــت، د کرنې په برخه کې د اوبولګونې له پرمختللو سيستمونو څخه پر استفادې او پــه دواړو ګاونډيـــو هېوادونو کـــې د وچکالۍ پر وړاندې د ګـــډې همکارۍ د زياتوالي په اړه بحث او خبرې وکړې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له ايراني لوري وغوښتل چې له افغانستان سره په کور دننه د برېښـــنا د توليد په برخه کې خپلې تجربې شريکې او تخنيکي همکاري وکړي.

د ايران د انرژۍ وزير ښاغلي علي اکبر محرابيان د ايران او افغانستان له لوري د وچکالۍ پر وړاندې د ګډې مبارزې، په افغانستان کې د برېښنا توليد په برخه کې د ايران پر همکارۍ او پانګونې په اړه افغان پلاوي ته د همکارۍ ډاډ ورکړ.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ايران د کرنې لـــه وزير محمد علي نيکبخت سره وکتل



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوي ايران ته د خپل ســـفر په ترڅ کې د دغه هېواد د کرنې له وزير محمـــد علي نيکبخت سره وکتل. په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو لوړ رتبه مسوولينو په افغانستان کـــې د کرنې پر ميکانيزه کولـــو، د کوکنارو د بديلو کښتونو په برخه کې پر مرستې، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په برخه کې پر افغان ظرفيت جوړونې او پر افغان کرنيزو محصولاتو د تعرفې پر کمولو هراړخيزې خبرې وکړې.

# پــه ايران کې د مېشـــت افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند یاد کنفرانس ته د خبرو پر مهال وویل، په تېرو شلو کلونو کې د افغانانو او په ځانګړي ډول ملي سوداګرو او پانګوالو د سر او مال امنیت خوندي نه و، خو له نېکمرغه د اسلامي امارت په راتګ سره یې امنیت خوندي شوی او اوس په ډاډمنه فضا کې خپل کاروبار کوي.

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، په افغانســـتان کې د سرتاسري امنیت په راتلو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانګوالو ته هم د پانګونې زمینه برابره شـــوې. محترم ملا صاحب وویل، زه په ایران او نورو نړۍ کې پر مېشتو ټولو افغان کادرونو، ملي سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو غږ کوم، چې خپل هېواد ته راستانه راشي او دلته په بېلا بېلو برخو کې پانګونه وکړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تهران کې د افغانســـتان له سفارت څخه لیدنه وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په تهران کې د افغانستان له سفارت څخه د لیدنې پر مهال وویل، د تېرو ٤٠ کلونـــو پر مهال افغانان په بهرنیو هېوادونو کې له ډېر ســـتونزو سره مخ وو او په ښـــه ډول یې ســـتونزو ته رســـېدنه نه کېده، خو نن الحمدلله په افغانستان کې یو داسې نظام واک ته رسېدلی چې هغه په رښتیني مانا د دغه ولس خدمت کوي او په دغـــه برخه کې خپلو مســـوولیتونو ته متوجې دی.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، د افغان ولس هوساینه او رضایت زموږ یوازینۍ هیله ده او تاسې هر مسوول کس باید نهایي کوښـــښ وکړئ، څـــو د هېوادوالو ستونزو ته په ښه ډول رسېدنه وکړئ.

# محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند لیدنه د ایران د ټکنالوژۍ او تخنیک له نندارتون څخه وکړه




محترم ملا صاحب له دغه نندارتون څخه د لیدنې پر مهال وویل، ایران د افغانستان یو ښه ګاونډی پاتې شـــوی او د تاریخ په اوږدو کې یې په بېلابېلو برخو کې له افغانانو سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، موږ له ایران اســـلامي جمهوریت څخه غواړو چې د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې افغان محصلینو او زده کوونکو ته د زده کړو فرصتونه برابر کړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د چابهار بندر له مســـوولینو سره ځانګړې لیدنه

محترم ملا عبدالغني برادر اخونـــد له چابهار بندر څخه د لیدنې پر مهال پـــه ځانګړې غونډه کې له لوړرتبه ایراني مســـوولینو سره وکتـــل. محترم ملا صاحب له ایراني لوري وغوښتل څو په چابهار بندر کې افغانســـتان ته د اوږدمهال لپاره په مناسبه بیه ځمکـــه ځانګـــړې کـــړي، د دغه بندر لـــه لارې د افغانستان د صادراتو او وارداتو په زیاتوالي کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي او افغانستان ته له چابهار بندر څخه د استفادې لپاره سهولتونه برابر کړي.

ایـــراني لوري وویل، افغانســـتان کولای شي سر له اوســـه دچابهار بندر څخـــه د صادراتـــو، وارداتو او ترانزیټ لپاره عملاً استفاده پیل کړي او ایران په دغه برخه کې بشپړ چمتووالی لري.

# په چابهار نړیوال پوهنتون کې لــه افغان محصلینو سره د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه




محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند ایران ته د خپل رسمي ســفر په ترڅ کې په چابهار نړیوال پوهنتون کــې له افغــان محصلینو سره وکتــل. محترم ملا صاحب د یادو محصلینو د هڅو او زده کړو ســتاینه وکړه او ویې ویل، چې دا یو ښه فرصت دی چې تاسو ته په بهر کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده، نو پکار ده چې له دې فرصت څخه ښه استفاده وکړئ او په راتلونکې کـــې د خپل هیواد پـــه آبادۍ کې خپل مسوولیت په ښه ډول ادا کړئ.

## کابل ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او ورسره مل پلاوي راســتنېدنه

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مــشرۍ لوړپوړی اماراتي پلاوی ایران ته له خپل شــپږ ورځني سفر وروسته د روان لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۹ مه نېټه بېرته کابل ته راستون شو.

د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال په کابل نړیوال هوایي ډګر کې خبري کنفرانس ته د خپلو خبرو پر مهال وویل: «ایران ته مو د خپل ســفر پر مهال له لوړپوړو ایراني مسوولینو سره وکتل او پر هغه سربېره مو له چابهار بندر او یوشمېر صنعتي او تولیدي فابریکو څخه هــم لیدنه وکړه. زموږ د سفر موخه دا وه څو بهرنیو هیوادونو ته د افغاني توکو د صادراتو او وارداتو د رســولو اسانه او ارزانه لار پیــدا کړو چې پــه دې سره به د افغانســتان سوداګري زیاته شي.» محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه، د دغه سفر پر مهال یې د ایــران له حکومت او خصوصي ســکتور سره په بېلابېلو برخو کې یوشــمېر تفاهمنامې لاسلیک کړې، چــې دا د دواړو هېوادونو لپاره په صنعت او سوداګرۍ کې لویه لاسته راوړنه ده.




## در شهر کابل تا اکنون ٤٥١٩٧ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در ســایر ولایت های کشــور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ۴۵۱۹۷ گدا تا ۱۹ عقرب سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایــان جمع آوری شــده ۱۴۵۱۷ زن ، ٦۹۱۷ مرد و بقیه ۲۳۷٦۳ طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۲ تن آن بی سرپرســت می باشــند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسهٔ توزیع کمک های نقــدی و مواد خوراکی ماهانــه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.

ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه



# نظر اجمالی بر روابط دو جانبه
# افغانستان و ایران

نویسنده: هدایت الله واحدی

افغانستان و ایران به نسبت همسایگی، مشترکات دینی و داشتن مرز مشترک و مشترکات فرهنگی و تاریخی، در سیاست خارجی هر دو کشور از اهمیت خاصی برخوردار است. اولین روابط سیاسی دو کشور بعد از استقلال افغانستان، در سال ۱۹۲۰ میلادی در زمان حکومت شاه امان‌الله خان آغاز گردید. در آن زمان، نماینده افغانستان برای مذاکرات سیاسی وارد ایران شد و پیشنهاد پنج ماده ای افتتاح مذاکره دوستی، مبادله سفرا، اقامه کنسول افغانی در مشهد، استقرار روابط پستی و روابط تجارتی را به دولت ایران داد. در ادامه این مذاکرات و بعد از یک سال، معاهده دوستی در سال ۱۹۲۱ بین نماینده گان دو کشور امضاء شد. همچنان در سال ۱۹۲٦ معاهده‌ای بین دو دولت در ۹ فصل در کابل به امضاء رسید که تأیید مواد معاهده قبلی، عدم‌تعرض و حفظ بی‌طرفی هنگام تعرض دولت‌های دیگر و امضای قراردادهای تجارتی جزء مفاد این معاهده بود. ایران و افغانستان در طول اضافه تر از صد سال، روابط سیاسی و مبادلات تجارتی مطلوب و خوبی به عنوان دو کشور دوست و همسایه با هم داشته و دارند، براه اندازی نمایشگاه‌های محصولات زراعتی، صنعتی و فرهنگی(نمایش کتب و سایر موارد فرهنگی) در ادوار مختلف تاریخ به منظور معرفی محصولات زراعتی و صنعتی و بازار یابی آن همچنان شناخت بهتر از مسایل فرهنگی هردو کشور در افغانستان و ایران ثبوتی آشکاری دیگری برای تعامل و روابط دوجانبه خوبی این دو کشور است. چنانچه این کشور در درازای دوران جنگ و ناملایمات در افغانستان میزبان خوب مهاجرین افغان بوده همچنان در کنار سایر روابط، اعم از سیاسی (سفرهای دیپلوماتیک)، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی در نظرگیری بورسیه های تحصیلی برای محصلین افغان در ایران، سرمایه گذاری سرمایه گذاران ایرانی در مشارکت با سرمایه گذارن افغان در قرارداد معدن غوریان هرات، مساعدت ایران به زلزله زده‌گان هرات همه و همه نشاندهنده روابط خوبی دوجانبه می باشد. حضور ارتش سرخ در افغانستان که همزمان با پیروزی انقلاب ایران بود، موجب افزایش ارتباطات تنگاتنگ دو کشور و حضور میلیون‌ها شهروند افغانی در ایران شد. با رویکار آمدن امارت اسلامی مناسبات دو جانبه میان این دو کشور به مراتب از گذشته رنگ و بوی تازه به خود گرفت، روابط دوجانبه سیاسی و اقتصادی میان دو کشور گسترش یافت، که با وجود عدم به رسمیت شناختن افغانستان از سوی جامعه جهانی که دید خصمانه به این نظام دارند، سفارت و قونسلگری افغانستان در ایران فعالیت دارد و عکس آن سفارت ایران در افغانستان فعال می باشد. در بخش تجارت، صادرات و واردات و ترانزیت بین دو کشور نه تنها مشکلی وجود ندارد بلکه به شکل نارمل و بهتر از گذشته این روند ادامه دارد، مشکلات مهاجرین افغان در آن کشور رو به حل شدن و بهبود است، روابط دوجانبه مثبت میان دو کشور به شکل احسن پیش میرود. چنانچه به گفته فیضان الله ناصری رئیس دوم سیاسی وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان،" روابط امارت اسلامی افغانستان و ایران در تمامی عرصه ها به بهترین وجه بوده ارزش روابط اقتصادی بین ایران و افغانستان بیش از یک و نیم میلیارد دالر رسیده است." این مسایل مبین آن است که روابط دوجانبه مثبت دو کشور به شکل روز افزون در حال گسترش می باشد، چنانچه به تاریخ ۱۳ ام عقرب سال روان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء و هیئت همراه شان بنا بر دعوت رسمی ایران به این کشور سفر نمودند و با مقامات آن کشور از جمله با محمد مخبر معان رئیس جمهور، روح الله دهقانی فیروز آبادی معاون رئیس جمهور در بخش تکنالوژی و تخنیک، دکتور امیرعبداللهیان وزیر امور خارجه، احمد

وحیدی وزیر امور داخله، علی اکبر محرابیان وزیر انرژی، محمدعلی نیکبخت وزیر زراعت، علی اکبر احمدیان رئیس شورای عالی امنیت ملی، مسؤلین سفارت افغانستان مقیم ایران، تجاران و سرمایه گذاران افغان مقیم آن کشور، مسؤلین بندر چابهار و محصلین افغان در پوهنتون بین المللی چابهار در مقاطع مختلف زمانی به طور جداگانه نشست ها داشتند. هدف این سفر در مجموع تقویت هرچه بیشتر روابط دوجانبه سیاسی، اجتماعی، فرهنگی و به ویژه مسایل اقتصادی میان دو کشور دوست و همسایه، جستجوی راه سهل و نازل برای صادرات محصولات افغانی، واردات جهت توسعه تجارت و همکاری ایران در ابعاد مختلف می باشد. هیئت بلند پایه امارتی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء طی نشست های جداگانهای که با مسؤلین ایران داشت پیرامون مسایل تجارت، صنعت، معدن، نفت، ترانزیت، سرمایه گذاری، زراعت، موضوعات سرحدی صحت، اعمار سرک ها و شاهراه ها، مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، شبکه خط آهن ،مشکلات مهاجرین افغان مقیم ایران، تشویق محصلین افغان در پوهنتون بین المللی چابهار و متوجه نمودن آنها جهت خدمت گذاری به ملت، استفاده از بندر چابهار و سپردن جایداد به قیمت نازل در این بندر جهت داشتن تأسیسات و تسهیلات لازم جهت تجارت و ترانزیت مورد بحث قرار گرفت. همچنان معاون اقتصادی ریاست الوزراء و هیئت همراه شان از بندر چابهار و تعدادی از کارخانه های صنعتی و تولیدی نیز بازدید کردند، لازم به تذکر است که در این سفر تعدادی از تفاهمنامهها نیز در زمینههای مختلف به امضاء رسید، که در این زمینه هیئت بلند رتبه امارتی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بعد از سفر شش روزه خویش به ایران هنگام برگشت به کابل در یک نشست خبری گفت »هنگامی سفر به ایران با مقامات بلند پایه آن کشور دیدار داشتیم و افزون بر آن از بندر چابهار و برخی فابریکه های صنعتی و تولیدی دیدن نمودیم. هدف سفر ما این بود تا برای صادرات محصولات افغانی و واردات راه سهل و ارزانتر را جستجو کنیم، که با آن تجارت افغانستان بیشتر گردد.« محترم ملا صاحب حین سخنان خویش افزود، در جریان این سفر در عرصه های تجارت، صنعت، ترانزیت، نفت، ترانسپورت، شبکه خط آهن و مخابرات و تکنالوژی معلوماتی برخی از تفاهمنامه ها به امضاء رسیده است. این مسایل نمایانگر آن است که افغانستان و ایران روابط خوبی دوجانبه در همه ابعاد داشته که ناشی از آن مفادی بیشتری در تمامی عرصهها برای هر دو کشور میسر می گردد. پیرامون این مناسبات معاون اقتصادی ریاست الوزراء در دیدار با وزیر امور خارجه ایران در بخش از سخنان خود گفت که افغانستان و ایران در طول تاریخ دو کشور دوست و همسایه بوده اند که روابط سیاسی، اقتصادی و فرهنگی خوبی با یکدیگر دارند و نیاز است تا مشترکاً در حصه انکشاف و تقویت این روابط کار شود. این گفته محترم ملا عبدالغنی برادر آخند به خوبی میرساند که این دو کشور مناسبات خوب و مثبت با هم دیگر داشته و جهت گسترش و تقویت آن، هر دو طرف باید مشترکاً کار نمایند. بناً این روابط قدامت بیشتر داشته و به شکل رسمی آن به اضافه تر از یک قرن میرسد. پس لازم است تا به منظور تقویت هرچه بیشتر این مناسبات، هر دو کشور با موقعیت جغرافیایی استراتژیکی که در منطقه دارند به خصوص در عرصه تجارت، ترانزیت( صادرات و واردات) و اتصال منطقهای و سایر بخش ها باید همکار صدیق هم دیگر بوده تا از این رهگذر هر دو کشور دوست و برادر سودی بیشتری را به نفع کشور و ملت های خویش از آن خود کنند.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۹,۹۰؋ | ۷۰,۰۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۳۳؋ | ۲۳٤؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۶؋ | ۱,۳۸؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۳,٤۰؋ | ۷۳,۶۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۱,۲۰؋ | ۱,۳۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۹۸۰؋ | ۱۰۲۰؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۸۹,۰۰؋ | ۸۹,۵۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۲۳,۵۵؋ | ۲۳,۶۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲٤,۳۰؋ | ۲٤,٤۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۱۶,۵۰؋ | ۱۶,۶۰؋ |